کورنۍ دنده: په خپلو کتابچو کې د (۲۰۱ او ۲۱۰) عددونه په چوت کې وښایاست.

دېرشم لوست

د یو عدد مخ کې عدد، وروسته اود دوه عددونو منځ عدد

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي باید دیوه عدد نه مخ کې عدد، دیوه عدد څخه وروسته او هغه عدد چې ددوو عددونو په منځ کې دی وپیژني.

هغه عددونه ولیکئ چې د درکړل شوو عددونوڅخه یو عدد مخ کې قرارلري.

مثال. ۲۷۷ ، ۲۷۸ ـــــ ، ۵۴۶ ـــــ ، ۱۲۷

۱. ـــــ ، ۳۲۹ ـــــ ، ۴۴۰ ـــــ ، ۷۸۱

۲. ـــــ ، ۶۳۰ ـــــ ، ۹۱۷ ـــــ ، ۸۴۶

هغه عددونه ولیکئ چې د درکړل شوو عددونو څخه یو عدد وروسته قرارلري.

۳. ۱۱۲، ـــــ ۳۱۹، ـــــ ۸۵۵، ـــــ

۴. ۴۷۸، ـــــ ۹۹۸، ـــــ ۲۵۲، ـــــ

۵. ۵۹۱، ـــــ ۷۴۳، ـــــ ۶۶۹، ـــــ

هغه عددونه ولیکئ چې د لاندې درکړل شوي عددونو په منځ کې راشي.

۶. ۱۱۸، ـــــ ، ۱۲۰ | ۴۹۹، ـــــ ، ۵۰۱ | ۷۸۷، ـــــ ، ۷۸۹

۷. ۶۴۲، ـــــ ، ۶۴۳ | ۲۹۹، ـــــ ، ۳۰۱ | ۹۵۳، ـــــ ، ۹۵۵

۸. ۸۲۷، ـــــ ، ۸۲۹ | ۳۳۵، ـــــ ، ۳۳۷ | ۳۷۸، ـــــ ، ۳۸۰

---

۹. ټول هغه عددونه چې د ۵۴۰ او ۵۶۰ په منځ کې دي ولیکئ.

کورنۍ دنده:

د درکړل شوو عددونو مخ کې وروسته یا منځ کې عددونه ولیکئ.

۱. ۲۲۲، ـــــ ، ۲۲۴ | ، ـــــ ، ۱۹۶ | ۲۳۴، ـــــ

۲. ـــــ ، ۴۲۱ | ۶۴۹، ـــــ ، ۶۵۱ | ۹۱۹، ـــــ

یودېرشم لوست

د عددونو پرتله

هدف: زده کوونکي باید کوچني او لوی عددونه یوله بله سره تشخیص او همدارنګه دوه مساوي عددونه وپېژني د >، < او = نښې وکاروي.

>	<	=
دا > نښه زیات راښيي ۳۴۲ > ۱۱۱ ۳۴۲ زیات له ۱۱۱ څخه دي	دا < نښه لږ راښيي ۱۱۱ < ۳۴۲ ۱۱۱ لږ له ۳۴۲ څخه دي.	دا = نښه مساوي راښيي. ۱۵۰ = ۱۵۰ ۱۵۰ مساوي له ۱۵۰ سره دي

د عددونو هره جوړه د (>، < یا =) نښې په دایره کې په ایښودلوسره پرتله کړي.

۱. ۴۲۳ (>) ۳۵۳   ۵۰۱ ( ) ۴۹۲   ۲۷۱ ( ) ۲۷۱

۲. ۵۴۷ ( ) ۴۹۹   ۷۷۷ ( ) ۸۱۲   ۱۴۲ ( ) ۲۴۲

۳. ۶۸۷ ( ) ۸۲۱   ۳۱۷ ( ) ۳۱۷   ۹۲۸ ( ) ۹۲۹

۴. ۶۲۵ ( ) ۶۲۵   ۴۱۸ ( ) ۲۵۷   ۵۸۹ ( ) ۵۸۹

۵. ۱۲۹ ( ) ۱۷۲   ۳۶۴ ( ) ۲۸۱   ۶۶۹ ( ) ۵۶۹

۶. ۲۳۰ ( ) ۱۰۰   ۷۶۸ ( ) ۸۰۱   ۴۱۲ ( ) ۴۱۲

تاسو د ۳۰۰ او ۴۰۰ په منځ کې مناسب عددونه د لاندې پوښتنو په حل کې استعمال کړئ.

۷. ___ (<) ___   ___ (=) ___   ___ (>) ___

۸. ___ (>) ___   ___ (>) ___   ___ (=) ___

کورنۍ دنده: معما حل کړئ.

۱. زه یو عددیم چې له ۶۷۵ څخه لږ اوله ۶۶۷ څخه زیات یم په داسې توګه چې زما دیویز رقم ۲ دی. زه کوم عدد یم؟

۲. د یوه عدد په برخه کې یوه معما ولیکئ او هغه خپل ملګري ته ورکړئ چې حل یې کړي.

دوه دېرشم لوست

د عددونو ترتیب نظر په مقامي ارزښت سره

هدف: زده کوونکي عددونه نظر په مقامي ارزښت سره ترتیب او دځایونو ټاکل وکړاي شي.

دیوه کتاب له فهرست څخه دا مخونه په نظر کې نیسو.

فهرست

۶فصل	۳۱۸ ....
۷فصل	۳۳۷ ....
۸فصل	۴۰۰ ....
۹فصل	۴۲۰ ....
۱۰فصل	۴۶۲ ....

لاندې عددونه د ښي خوا څخه کیڼې خواته د کوچني عدد څخه لوي عدد ته ترتیب شوی دي.

۳۱۸، ۳۳۷، ۴۰۰، ۴۲۰، ۴۶۲

او دا عددونه د ډېر لوی عددڅخه دکوچني عدد خواته ترتیب شوي دي ۴۶۲، ۴۲۰، ۴۰۰، ۳۳۷، ۳۱۸

لاندې عددونه د ډېر لږو څخه د ډېر زیاتو خواته ترتیب او ویې لیکئ.

۱. ۱۱۹، ۹۳، ۱۲۵، ۲۰۱ ______، ______، ______، ______

۲. ۲۹۶، ۲۲۸، ۲۵۲، ۲۸۳ ______، ______، ______، ______

۳. ۷۷، ۴۱۵، ۶۹۰، ۱۵۲ ______، ______، ______، ______

لاندې عددونه د ډېرو زیاتو څخه د ډېرو لږو خواته ترتیب او ویې لیکئ.

۴. ۳۴۸، ۲۲۰، ۴۶۴، ۷۳۲ ______، ______، ______، ______

۵. ۶۰۵، ۹۷۳، ۷۵۱، ۴۸۹ ______، ______، ______، ______

۶. ۲۴۵، ۲۱۷، ۲۷۳، ۲۲۹ ______، ______، ______، ______

۷. د ۸، ۲ او ۶ رقمونو په کارولو سره کوم درې رقمي عددونه لیکلای او جوړولای شئ؟

____ ____ ____ ____ ____ ____

۸. د خپلې خوښې عددونه د ډېر لږو څخه د ډېر لوی خواته ترتیب او ویــې لیکئ

، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____

ډېر لږ ... ډېر زیات

کورنۍ دنده: څلور عددونه په ترتیب سره د ډېر زیات څخه د ډېــر کــوچني عدد خواته ترتیب کړئ دا عددونه د ۶۰۰ او ۸۰۰ ترمنځ وټاکئ.

______، ______، ______، ______

تر ۱۰۰۰ عددونو مشق او تمرین



لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست.

د ۴٦۴ او ۷۰۹ عددونه استعمال کړئ ترڅو هرې پوښتنې ته ځواب ووایاست.

۱. د کوم عدد یویز ۴ دی؟

۲. د کوم عدد لسیز صفر دی؟

۳. د کوم عدد لسیز ٦ دی؟

۴. د کوم عدد سلیز ۷ دی؟

۵. د دې دواړو عددونو د تفریق حاصل پیدا کړې؟

٦. کوم عدد لوي دی؟ ______

دلاندې شکلونو څخه په ګټه اخیستلو سره اړوند عددونه په درې ډوله ولیکئ.

۷. 

______ سل ______ لسه ______ یو

______ + ______ + ______

______

---

۸. 

______ سل ______ لسه ______ یو

______ + ______ + ______

______

کورنۍ دنده:

هغه عددونه چې د ۸۰۱ او ۸۵۱ ترمنځ قرار لري په ترتیب سره یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

شکلونه خپلو کتابچو کې رسم کړئ له یویزو او لسیزو څخه په ترتیب سره د لسو او سلو گروپونه جوړ او د هغو د شاوخوا څخه دایره وکاږئ او اړوند عـــدد یـــې ولیکئ.

۱. 

سل ____ لسه ____ یو ____

____ + ____ + ____

____

۲. 

سل ____ لسه ____ یو ____

____ + ____ + ____

____

۳. 

سل ____ لسه ____ یو ____

____ + ____ + ____

____

لاندې پوښتنې خپلوکتابچوته نقل کړئ اوپه دایره کې د<،>یا = مناسبه نښه ولیکئ.

۴. ۲۰۷ ◯ ۷۰۲   ۱۱۶ ◯ ۱۶۱   ۲۲۰ ◯ ۱۲۱

۵. ۴۳۷ ◯ ۷۴۳   ۳۳۲ ◯ ۲۳۳   ۳۱۲ ◯ ۱۲۳

د حل شوي مثال سره سم تش ځایونه ډک کړئ.

۶. ٦۰۵، ٦۱۵، ٦۲۵، ۶۳۵   ۸۰۰، ۸۰۵، ۸۱۰، ____

۷. ۳۴۰، ۳۵۰، ۳٦۰، ____   ۵۹۹، ٦۹۹، ۷۹۹، ____

۸. ۳۲۲، ۳۳۲، ۳۴۲، ____   ۷۲۰، ۷۲۴، ۷۲۸، ____

مخ کې عدد وروسته عدد او د دو عددونو په منځ کې عدد ولیکئ.

۹. ___، ۴۳٦   ۸۰۹، ____، ۸۱۱   ۱۷۰، ____

۱۰. ٦۳۷، ___، ٦۳۹   ۳۳۳، ____   ۴۴۴، ____

کورنۍ دنده: زده کوونکي د ۹ او ۱۰ شمیرې پوښتنې په کورکې حل کړي؟

شپږم فصل

د درې رقمي عددونو جمع او تفریق

درې دېرشم لوست

د درې رقمي عددونو جمع او تفریق

د څو سلګونو جمع کول

هدف: په دې لوست کې زده کوونکي په درې رقمي (څوسلګونو) عددونو کې جمع او تفریق سرته ورسولای شي.

د چوکات له وزنونو څخه کوم یې سره جمع شي ترڅو د موټر بار بشپړ شي.

۵۰۰ کیلوګرامه	۵۰۰ کیلوګرامه	
۱۰۰ کیلوګرامه	۷۰۰ کیلوګرامه	
۱۰۰ کیلوګرامه	۵۰۰ کیلوګرامه	۲۰۰ کیلوګرامه
۸۰۰ کیلوګرامه	۳۰۰ کیلوګرامه	۶۰۰ کیلوګرامه

مثال:



۳ سله



۲ سله

۵ سله = ۲ سله + ۳ سله

۵۰۰ = ۲۰۰ + ۳۰۰

پورتني مثال په نظر کې ونیسي اولاندې پوښتنې جمع کړئ.

۱. 

____ سله = ____ سله + ____ سله

____ = ____ + ____

۲. 

___ سله = ___ سله + ___ سله

___ = ___ + ___

---

۳. 

___ سله = - سله + ___ سله

___ = ___ + ___

---

۴. 

___ سله = ___ سله + ___ سله

___ = ___ + ___

---

۵. 

___ سله   ___

+ ___ سله   + ___

___ سله   ___

---

۶. 

___ سله   ___

+ ___ سله   + ___

___ سله   ___

کورنۍ دنده: لاندې پوښتنې د سلګونو بنډلونه په خپلو کتابچو رسم او جمع يې کړئ.

۲ سله   ___

+ ۳ سله   + ___

___ سله   ___

څلور دېرشم لوست

د درې رقمي عدد جمع کول له درې رقمي عددسره چې ديويز او لسيز رقمونه يې صفر وي

هدف:زده کوونکي يو درې رقمي عدد له بل درې رقمي عدد سره چې ديويز او لسيز رقمونه يې صفر وي جمع کړای شي.

مثال



۸۳۱ = ټوله

۳ سله ۳ لسه ۱ يو

۵ سله ۰ لسه ۰ يو

۸ سله ۳ لسه ۱ يو

$$\begin{array}{r} ۳۳۱ \\ +\ ۵۰۰ \\ \hline ۸۳۱ \end{array}$$

۱.



___ سله ___ لسه ___ يو

___ سله ___ لسه ___ يو

___ سله ___ لسه ___ يو

___
+ ___
___

۲.



___ سله ___ لسه ___ يو

___ سله ___ لسه ___ يو

___ سله ___ لسه ___ يو

___
+ ___
___

۳- ۲۷۳ + ۳۰۰ ، ۱۸۷ + ۵۰۰ ، ۶۱۲ + ۱۰۰ ، ۴۳۹ + ۵۰۰ ، ۶۴۳ + ۲۰۰

۴- ۵۲۷ + ۱۰۰ ، ۷۲۸ + ۲۰۰ ، ۴۸۳ + ۳۰۰ ، ۵۱۲ + ۱۰۰ ، ۳۷۴ + ۴۰۰

کورنۍ دنده: جمع يې کړئ.

۱. ۸۴۷ + ۱۰۰ ، ۲۴۷ + ۷۰۰ ، ۴۸۲ + ۲۰۰ ، ۳۷۱ + ۵۰۰ ، ۵۴۷ + ۳۰۰

پنځه دېرشم لوست
د درې رقمي عددونو جمع

هدف: زده کوونکي ټول درې رقمي عددونه یوله بله سره جمع کړای شي.

د اماني ښوونځي یو لوی سالون د زده کوونکو دکارونو د ښودلو له پاره لري.
د سه شنبې په ورځ ۲۴۷ تنه راغلل.
او د چهارشنبې په ورځ ۱۳۲ تنه راغلل.
په مجموع کې د دې سالون څخه څو تنو لیدنه کړې ده.



سلیز	لسیز	یویز
۲	۴	۷
+ ۱	۳	۲
۳	۷	۹

۳۷۹ تنه د لوبغاړې سالون ته راغلي دي



۹ یو ۷ لسه ۳ سله

۳۷۹

پوښتنه: ولې مونږ لومړي یویز جمع کوو؟

د خپل یو ټولګیوال سره کار وکړئ له یویزو څخه یې پیل کړئ اوجمع یې کړئ.

.۱

سلیز	لسیز	یویز
۱	۲	۵
+ ۳	۳	۴

سلیز	لسیز	یویز
۳	۱	۴
+ ۱	۲	۵

.۲

سلیز	لسیز	یویز
۳	۱	۶
+ ۲	۵	۱

سلیز	لسیز	یویز
۴	۲	۲
+ ۵	۱	۵

۳.

سلیز	لسیز	یویز
۲	۷	۵
+ ۴	۱	۹

سلیز	لسیز	یویز
۶	۳	۷
+ ۱	۶	۱

۴.

سلیز	لسیز	یویز
۵	۳	۸
+ ۱	۵	۰

سلیز	لسیز	یویز
۴	۵	۴
+ ۱	۱	۴

جمع یې کړئ:

۵. ۱۲۹ + ۳۰ ۳۴۱ + ۱۲۸ ۱۷۰ + ۳۱۲ ۲۰۶ + ۱۷۲ ۶۱۲ + ۳۵

۶. ۴۰۳ + ۲۱۴ ۱۵۹ + ۲۲۰ ۳۲۵ + ۷۱ ۵۰۸ + ۲۱۰ ۴۱۲ + ۴۴

۷. ۳۳۱ + ۵۱۷ ۱۱۱ + ۴۴۳ ۵۳۷ + ۲۱ ۷۷۱ + ۱۰۸ ۸۲۳ + ۱۶۴

کورنۍ دنده:

په تشو ځایونو کې مناسب عددونه ولیکئ.

۱.

سلیز	لسیز	یویز
□	۱	□
+ ۲	□	۶
۹	۸	۹

۲.

سلیز	لسیز	یویز
۲	□	۶
+ □	۵	□
۶	۶	۶

شپږ دېرشم لوست

د درې رقمي عددونو جمع کول چې حاصل ولري

هدف: زده کوونکي وکولای شي د درې رقمي حاصل لروونکي عددونه جمع کړئ.

مونږ سلیز، لسیز او یویز په لاندې توګه جمع کولای شو.

لومړی مرحلهٔ: یویز رقمونه سره جمع کړئ که چېرې حاصل ولري دوروستي رقم سره یې جمع کړئ.



$$\begin{array}{r} ۳۶۴ \\ +۲۷۳ \\ \hline ۷ \end{array}$$

دوهمه مرحلهٔ: لسیز رقمونه سره جمع کړئ که چېرې حاصل ولري دوروستي رقم سره یې جمع کړئ.



$$\begin{array}{r} ۱ \\ ۳۶۴ \\ +۲۷۳ \\ \hline ۳۷ \end{array} \qquad \begin{array}{r} ۶ \\ +۷ \\ \hline ۱۳ \end{array}$$

دریمه مرحلهٔ: دسلیزو رقمونه جمع کړئ.



$$\begin{array}{r} ۱ \\ ۳۶۴ \\ +۲۷۳ \\ \hline ۶۳۷ \end{array}$$

جمع يې کړئ او که حاصل ولري حاصل يې ونيسئ.

مثال:

سليز	لسيز	يويز
□	١	
۴	۳	۶
+ ۲	۵	۷
۶	۹	۳

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۱	۶	۲
+ ۵	۳	۶

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۳	۲	۹
+ ۳	۵	۴

۱.

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۲	۴	۹
+ ۱	۳	۶

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۴	۰	۹
+ ۲	۱	۳

سليز	لسيز	يويز
□	□	
	۵	۳
+ ۵	۵	۴

۲.

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۲	۷	۴
+	۶	۱

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۴	۵	۳
+ ۵	۱	۲

سليز	لسيز	يويز
۴	۲	۵
+ ۵	۴	۸

۳.

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۱	۳	۵
+ ۵	۲	۴

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۳	۴	۷
+	۷	۲

سليز	لسيز	يويز
□	□	
۲	۸	۱
+ ۳	۵	۶

کورنۍ دنده: حل يې کړئ.

د يوه ټولګي زده کوونکو ۳۷۸ کارتونه جوړ کړل.

د يوبل ټولګي زده کوونکو ۲۶۵ کارتونه جوړ کړل.

د دواړو ټولګيو زده کوونکو ټول څو کارتونه جوړ کړي دي؟

□

\+ □

□

د درې رقمي عددونو د جمعې مشق او تمرين:

تاسو درې رقمي عددونه په لاندې توګه جمع کولای شئ.

په دې ډول:

دريمه مرحلهٔ: سليز سره جمع کړئ	دوهمه مرحلهٔ: لسيز جمع کړئ که چېرې اړتياوې حاصل ونيسي.	لومړۍ مرحلهٔ: يويز جمع کړئ که چېرې اړتياوې حاصل ونيسئ.
(١)(١)	(١)(١)	(١)
٢٦٧	٢٦٧	٢٦٧
٢٩٦ +	٢٩٦ +	٢٩٦ +
٥٦٣	٦٣	٣

١٣

جمع يې کړئ.

۱.	۳۷۴ + ۱۴۷	۲۴۵ + ۴۵۸	۵۶۷ + ۳۳۳	۱۴۹ + ۷۵	۱۹۲ + ۴۴	۸۵ + ۱۹۷
۲.	۳۶ + ۷۳	۲۳۸ + ۴۴	۴۵۵ + ۱۴۵	۵۸۶ + ۳۶۴	۱۷۷ + ۱۶۸	۶۱۴ + ۱۸۷
۳.	۱۹۸ + ۲۶۷	۲۵۳ + ۳۳۵	۴۹۴ + ۳۶۳	۵۱۷ + ۴۶۷	۳۴۶ + ۳۶۴	۱۲۳ + ۳۴۵

اوه دېرشم لوست

د درې رقمي عددونو تفريق

هدف: زده کوونکي درې رقمي عددونه له درې رقمي عددونو څخه تفريق کړای شي.



سليز	لسيز	يويز
۴	۵	۷
− ۳	۳	۲
۱	۲	۵



په ډله ايز توګه کار وکړئ.

۱.

سليز	لسيز	يويز
۷	۲	۶
− ۱	۱	۵

سليز	لسيز	يويز
۶	۸	۹
− ۴	۷	۳

سليز	لسيز	يويز
۵	۳	۷
− ۲	۱	۶

۲.

سليز	لسيز	يويز
۴	۹	۴
− ۱	۰	۳

سليز	لسيز	يويز
۹	۷	۱
− ۳	۲	۰

سليز	لسيز	يويز
۸	۴	۴
− ۳	۲	۱

۳.

۶۷۹	۴۸۷	۳۸۹	۵۷۳	۶۵۹
− ۱۵۱	− ۲۳۷	− ۶۴	− ۱۳۰	− ۲۷

کورنۍ دنده:

۶۸۹	۵۸۷	۴۸۹	۶۷۳	۶۵۹
− ۲۵۳	− ۳۳۷	− ۱۶۴	− ۱۳۲	− ۴۳۷

اته دیرشم لوست

د درې رقمي عددونو تفریق په پور (قرض) اخستلو سره

هدف: زده کوونکي وکولای شي له یوه درې رقمي عدد څخه درې رقمي عدد چې پور اخستلوته اړتیا ولري تفریق کړای شي.

تاسو د ۱۴۶ عدد له ۳۱۸ څخه په لاندې توګه تفریق کولای شئ.

لومړي: یویز تفریق کړي کــه چېرې اړتیاوې د لــسیزو لــه مرتبې څخه پور واخلئ (لسیز، په یوه دانه یې بدلي کړئ)



۳۱۸
−۱۴۶
۲

دویم: لسیز تفریــق کړئ کــه چېــرې اړتیاوې د ســلیزو څخه پور واخلئ.



۲ | ۱۱
۳۱۸   ۱۱
−۱۴۶   −۴
۷۲   ۷

په دې لوست کې مونږ یو سلی په ۱۰ لسونو بدل کړی دی.

دریم: سلیز تفریــق کړئ.



۲ | ۱۱
۳۱۸
−۱۴۶
۱۷۲

د خپل یوه ټولګیوال سره کار وکړئ لومړی یویز تفریق کړئ که چېرې پــور اخستلو ته اړتیاوې د لسیزو له مرتبې څخه پور واخلئ.

مثال:

یویز	لسیز	سلیز
۱۵	۸	□
۵	۹	۶
۸	۴	−۲
۷	۴	۴

یویز	لسیز	سلیز
□	□	□
۵	۴	۷
۱	۳	−۵

یویز	لسیز	سلیز
□	□	□
۱	۶	۴
۳	۵	−۲

۲.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۵	۳	۷
− ۳	۱	۹

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۷	۲	۱
− ۴	۱	۴

سلیز	لسیز	یویز
۴	۲	۹
− ۱	۶	۱

۳.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۶	۴	۵
− ۲	۱	۸

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۵	۸	۹
−	۹	۲

سلیز	لسیز	یویز
۷	۴	۱
− ۲	۳	۰

۴.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۸	۴	۶
−	۹	۵

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۹	۳	۶
− ۴	۲	۶

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۷	۵	۹
− ۶	۱	۳

۵.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۴	۵	۰
− ۳	۶	۰

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۵	۳	۷
−	۶	۴

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۷	۲	۵
−	۹	۱

کورنۍ دنده: په تش ځایونوکي مناسب عددونه ولیکئ.

۱.

سلیز	لسیز	یویز
۵	□	۷
− ۲	۴	□
۳	۰	۹

۲.

سلیز	لسیز	یویز
۵	□	۷
− ۲	۴	□
□	۸	۹

دپور اخستلو په صورت کې د تفریق مشق او تمرین

تاسو درې رقمي عددونه په لاندې توګه تفریق کولای شئ.

لومړی مرحلهٔ: یویز تفریق کړئ که څېرې اړتیاوې پور واخلئ .

دوهمه مرحلهٔ : لسیز تفریق کړئ که څېرې اړتیاوې پور واخلئ .

دریمه مرحلهٔ: سلیز تفریق کړئ.



فرق یې ۳۷۵ دی

تفریق یې کړئ.

۱.	۳۴۶ − ۱۶۳	۵۱۶ − ۳۵۵	۴۲۹ − ۱۵۶	۸۴۰ − ۴۱۵	۸۳۷ − ۴۷۲	۴۱۷ − ۳۳۲
۲.	۷۶۳ − ۲۸۴	۴۸۰ − ۱۲۶	۵۹۳ − ۳۲۸	۹۶۳ − ۷۸۹	۷۵۴ − ۶۵۷	۸۱۶ − ۴۳۲
۳.	۶۵۵ − ۳۷۷	۵۷۶ − ۱۳۸	۳۶۵ − ۱۸۷	۵۷۴ − ۱۸۸	۷۲۵ − ۲۵۶	۹۳۲ − ۵۵۶

نه دېرشم لوست

د درى رقمي عددونو تفريق چې يويز او لسيز يې صفر وي

هدف: زده کوونکي دصفر لرونکي درې رقمي عددونو څخه درې رقمي عددونه تفريق کړاي شي.

تاسو د صفر لرونکو عددونوڅخه د نورو عددونو تفريق په لاندې ډول کولاى شئ.

لومړي مرحلۀ: يويز تفريق کړئ ځرنګه چې لسيز رقم صفر دى چې په يويزو بدليداى نشي.



۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶

دوهمه مرحلۀ: سليز په لسونو سره بـــدل کړئ لکـــه مقابـــل شکل:



۳ ۱۰
~~۴~~ ~~۰~~ ۰
− ۱ ۳ ۶

دريمه مرحلۀ: يولسيز په ۱۰ يودانه يې سره بدل کړئ.



~~۳~~ ~~۹~~ ۱۰
۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶

څلورمه مرحلۀ: تفريق يې کړئ.



(۳) (۹) (۱۰)
۴ ۰ ۰
− ۱ ۳ ۶
۲ ۶ ۴

پورته حل شوي مثال په نظر کې ونيسئ او تفريق يې کړئ.

مثال:

(۷) (۱۰) (۱۰)
۸ ۱ ۰
− ۳ ۲ ۵
۴ ۸ ۵

۵۴۰	۴۰۰	۷۰۰	۶۰۳	۵۰۶
−۲۷۳	−۱۵۸	−۳۶۳	−۴۸۹	−۴۹

۳۰۰	۹۰۸	۷۰۰	۵۰۰	۳۰۰	۲۷۰	۹۰۳
−۱۲۳	−۲۸۰	−۵۴۰	−۱۲۴	−۳۷	−۲۰۷	−۳۲۴

د درو رقمي عددونو د جمعې او تفریق مشق او تمرین:



آیا تاسو کولاشئ پوښتنوته ځواب وواياست.

د شکلونو څخه په ګټه اخیستو سره تش ځایونه په مناسبو عددونو ډک کړئ.

۱. 

___ سله = ___ سله + ___ سله

___ = ___ + −

۲. 

___ سله ___ لسه ___ یودانه يې

___ سله ___ لسه ___ یودانه يې +

___ سله ___ لسه ___ یودانه يې

☐	
☐	+
☐	

د قانون څخه په کار اخستنې سره لاندې جدولونه بشپړ کړئ.

۳.

۲۰۰ جمع کړي	
۲۲۰	
۶۷۰	
۵۱۰	
۱۷۰	

۴۰۰ جمع کړي	
۵۰۰	
۳۵۰	
۴۳۰	
۵۷۰	

۳۰ جمع کړي	
۷۳۰	
۸۷۰	
۱۹۰	
۴۲۰	

۴. جمع یې کړئ.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	
۶	۷	۳
+	۱	۹

سلیز	لسیز	یویز
□	□	
۴	۲	۵
+ ۳	۴	۸

سلیز	لسیز	یویز
□	□	
۲	۷	۶
+ ۱	۴	۵

۵. تفریق یې کړئ.

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۸	۳	۷
− ۲	۲	۵

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۳	۳	۷
−	۶	۱

سلیز	لسیز	یویز
□	□	□
۵	۲	۶
− ۱	۴	۸

۶. جمع یا تفریق یې کړئ.

۷۶۲	۸۲۳	۳۲۴	۷۰۰	۳۲۴	۱۲۷
− ۵۷۱	+ ۶۹	− ۳۲	− ۲۱۱	+ ۲۵۸	+ ۵۸۴

کورنی دنده:

۴۹۵	۳۰۷	۵۵۷	۶۸۳	۵۹۱	۷۰۰
+ ۱۰۸	− ۱۲۲	− ۳۲۹	+ ۷۷	− ۱۰۳	− ۳۳۱

۴۹۹	۹۴۷	۲۷۴	۶۰۱	۱۳۹	۲۹۰
+ ۲۰۱	− ۳۵۸	+ ۶۶۶	− ۱۲۷	+ ۴۸۳	+ ۵۷۵

اووم فصل

د عددونو ضرب او ویش عملیې

څلوېښتم لوست

د ضرب مفهوم

دوه، دوه، درې، درې زیاتول او شمېرل

هدف: دا لوست زده کوونکي چمتو کوي ترڅو د ضرب او تقسیم مفهومونه په ښه آسانۍ سره زده کړي.

٨ ډبرې ٦ ډبرې ۴ ډبرې ٢ ډبرې

ټوله ٨

متناوب شمېرل یعنی د عین عدد جمع کول تکراری توګه.

د خپل یوه ټولګیوال سره کار وکړئ کوچنۍ ډبرې وکاروئ او له هغې څخه مساوي ګروپونه جوړ کړئ، متناوب شمېر وکړئ، او مجموعه یې و لیکئ؟

مثال:

۵ وارې ۲، ۲ زیات کړئ

٢ ، ۴ ، ٦ ، ٨ ، ١٠

ټوله ____

١. ۴ وارې ۴، ۴ زیات کړي

____ ، ____ ، ____ ، ____

ټوله ____

٢. ٣ وارې ۵ ، ۵ زیات کړئ

____ ، ____ ، ____

ټوله ____

٣. ۴ وارې درې، درې زیات کړئ.

____ ، ____ ، ____ ، ____

ټوله ____

۴. ۵ وارې ٣ ، ٣ زیات کړي

____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____

ټوله ____

۵. ۴ وارې ۵ ، ۵ زیات کړئ.

____ ، ____ ، ____ ، ____ ، ____

ټوله ____

دوه بکسه هر یو یې شپږ هګۍ لري



د چرګې ټولې ۱۲ هګۍ

د چرګې هګۍ رسم کړئ متناوب شمېر وکړئ وېې لیکئ څومره؟

مثال: ۲ بکسونه، هر بکس ۳ هګۍ لري



د چرګې ټولې ٦ هګۍ

۱ – ۴ بکسونه،هر بکس ۵ هګۍ لري

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۲ – ۲ بکسونه، هر بکس ۴ هګۍ لري

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۳ – ۴ بکسونه، هر بکس ۴ هګۍ لري

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۴ – ۳ بکسونه، هر بکس ٦ هګۍ لري

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

۵ – ٦ بکسونه، هر بکس ۳ هګۍ لري

د چرګې ټولې ـــــــ هګۍ

کورنۍ دنده: ۴ چرګان هر یو یې ۲ پښې لري په یوه ونه باندې ناســـت دي شکل یې رسم کړئ متناوب شمېر وکړئ وېې لیکئ ټولې څو پښې دي؟

ـــــــ ، ـــــــ ، ـــــــ ، ـــــــ

ټولې ـــــــ پښې

یوځلوېښتم لوست

دهغو عددونو جمع کول چې مساوي اجزاوې ولري (تکراري جمع)

هدف: د جمعې د مساوي اجزاوو څخه په ګټه اخیستنې د زده کوونکو چمتوکول د ضرب د زده کړې لپاره

د منو مساوی ګروپونه جمع کوو تر څو مجموعه یې پیدا کړو.



۱۲ = ۳ + ۳ + ۳ + ۳



۳ دانه یې ۴ ګروپونه = ۱۲

ویې لیکئ څومره؟

مثال:



۱۵ = ۵ + ۵ + ۵

۵دانه یې ۳ ګروپونه = ۱۵

۱.

____ = ____ + ____ + ____

____ ګروپه د ____ = ____

۲.



____ = ____ + ____

____ ګروپونه د ____ = ____

۳.



____ = ____ + ____

____ ګروپونه د ____ = ____

۴.



____ = ____ + ____ + ____

____ ګروپونه د ____ = ____

۵.

____ = ____ + ____

____ ګروپونه د ____ = ____

جمع يې کړي ويې ليکئ خومره کيږی؟

.٦



____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.٧

____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.٨



____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.٩



____ + ____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.١٠

____ + ____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.١١



____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.١٢



____ + ____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

.١٣



____ + ____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

کورنی دنده : جمع يې کړي ويې ليکئ خومره کيږی؟

.١۴



____ + ____ + ____ + ____ = ____

____ گروپونه د ____ = ____

دوه څلوېښتم لوست

ضرب

هدف: زده کوونکي د ضرب عمليه زده کړي او علامه يې وپېژني.

۴ + ۴ + ۴

۳ واري څلور

۳× ۴ = ۱۲

۱۲ حاصل ده

دا × نښه د ضرب ده



که چېرې ګروپونه مساوي او هم جنسه وي هغه جمع يا ضرب کولای شو ترڅو چې مجموعه يې پيدا شي.

۳ وارې ۴ مساوي له ۱۲ هلته په ۳ ګلدانيوکې ۱۲ ګلان دي.

په دله ئيزه توګه کار وکړئ جمع يا ضرب يې کړئ ترڅوچې مجموعه يې پيداکړئ.

مثال:۴ ګروپونه د۳ دانه يې څومره چوغکۍ کيږي؟



۳ + ۳ + ۳ + ۳ = ۱۲

۳ واري ۴ = ۱۲

يا ۴ × ۳ = ۱۲ چوغکې

۱.



___ + ___ + ___ = ___

___ پنځه = ___

___ × ___ = ___ سپي

۲. ۲ ګروپونه د۳ دانه يې څومره ميزونه کيږي؟



___ + ___ = ___

___ درې = ___

___ × ___ = ___ ميزونه

۳.

___ + ___ + ___ = ___

___ يو = ___

___ × ___ = ___ بايسکيلونه

۴- دجمعې دافادو له مخې د ضرب د افادو تش ځایونه ډک کړئ.

۱- ☐ = ۱×۲ یا ۲ = ۱ + ۱

۲- ۳ = ☐ ×۳ یا ۳ = ۱ + ۱+۱

۳- ۴ = ☐ ×۴ یا ۴ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱

۴- ۸ = ☐ ×۴ یا ۸ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲

۵- ۱۵ = ☐ ×۵ یا ۱۵ = ۳ + ۳ + ۳ + ۳ +۳

۶- ۱۲ = ☐ ×۳ یا ۱۲ = ۴ + ۴ + ۴

۷- ۱۰ = ۵ × ☐ یا ۱۰ = ۵ + ۵

جمع او ضرب يې کړئ، ترڅو حاصل يې پيداکړئ.

مثال:

۱۲= ۴ + ۴ + ۴

۳ ګروپونه د ۴ = ۱۲

۳ وارې څلور = ۱۲

یا ۳ × ۴ = ۱۲ قفله

۱. ټول څوداني موټرونه دي؟



___ = ___ + ___ + ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ درې = ___

موټره ___ = ___ × ___

۲. ټولې څومره کوترې دي؟

___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ پنځه = ___

یا ___ × ___ = ___ کوترې

۳ . ټول څو داني ګیلاسونه دي؟



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ دري = ___

یا ___ × ___ = ___ ګیلاس

کورنۍ دنده:

۱– ټول څو داني ګلان دي؟

___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ پنځه = ___

یا ___ × ___ = ___ ګلونه

۲– ټول څوداني خټکي دي؟



___ + ___ = ___

___ ګروپونه د ___ = ___

___ څلور = ___

یا ___ × ___ = ___ خټکې

دري څلوېښتم لوست
د کتارونو جوړول

هدف: زده کوونکي وپوهيږي که چېرې دجمعې اجزاوې مساوي نه وي دجمعې عمليه په ضرب باندې بدليدلای نشي.





په دې کتارونوکې د رنګ شويو مربعاتو
مختلف شمېر شتون لري.
کتارونه يوله بله سره مساوي نه دي.
مونږ هغه ضربولای نشو.

دا کتارونه سره مساوي دي
په هرکتار کې ۳مربع ګانی رنګ شوي دي.
۴ کتارونه شتون لري.
په هر کتارکې۳ مربع ګاني
۴ × ۳ = ۱۲ رنګه مربع ګاني

هر زده کوونکی دې په خپله خوښه کتارونه رنګ کړي او دهغوی شميردې وښيئ.

۱.



______ مساوي کتارونه
______ په هر کتار کې
______ حاصل

۲.



______ مساوي کتارونه
______ په هر کتار کې
______ حاصل

۳.



______ مساوي کتارونه
______ په هر کتارکې
______ حاصل

۴.



______ مساوي کتارونه
______ په هر کتار کې
______ حاصل

مساوي کتارونه رنګه کړئ او دهغوي شمیر معلوم کړئ.

۵. ۳ کتاره د۴ وښيئ



۳ کتاره

۴ په هر کتار کې

۳ × ۴ = ۱۲

٦. ۴ کتاره د۲ وښيئ



___ کتاره

___ په هر کتار کې

۴ × ۲ = ___

۷. ۴ کتاره د۵ وښيئ



___ کتاره

___ په هر کتار کې

۴ × ۵ = ___

۸. ۵ کتاره د۵ وښيئ



___ کتاره

___ په هر کتار کې

۵ × ۵ = ___

۹.



___ کتاره

___ په هر کتار کې

۲ × ۳ = ___

۱۰.



___ کتاره

___ په هر کتار کې

۳ × ۵ = ___

کورنۍ دنده: ټول تمرینونه حل کړئ وروسته:

۱. داسې شکلونه رسم کړئ چې ۳×۵ وښيي

۲. داسې شکلونه رسم کړئ چې ۵ × ۷ وښيي

څلور څلوېښتم لوست

په ضرب کې د بدلون خاصیت

هدف: زده کوونکي په دې پوه شي که چېرې د ضرب د اجزاو ځایونه بدلون وکړي د ضرب په حاصل کې بدلون نه راځي.

تاسو عددونه په لاندې ډول ضرب کولای شئ چې عین حاصل ولري.



۲ × ۴ = ۸

۴ × ۲ = ۸

مساوي کتارونه جوړ کړئ هر کتار رنګ کړئ او حاصل یې پیدا کړئ.

مثال:



۵ × ۳ = ۱۵ ، ۳ × ۵ = ۱۵

۱.



۳ × ۴ = __ ، ۴ × ۳ = __

۲.



۲ × ۳ = __ ، ۳ × ۲ = __

۳.



۱ × ۵ = __ ، ۵ × ۱ = __

۴.



۵ × ۴ = __ ، ۴ × ۵ = __

۵.



۴ × ۲ = __ ، ۲ × ۴ = __

د ضرب حاصل پيداکړئ.

۶.



۵× ۳ = ___ ، ۳ ×۵ = ___

۷.



۲× ۵ = ___ ، ۵ ×۲ = ___

۸. عددونه وليکئ او کتارونه يې رنګ کړئ. د ضـــرب ډول، ډول پوښـــتنې وليکې.



___ × ___ = ___

___ × ___ = ___

وړې ډبرې استعمال کړئ ترڅو له تاسو سره د ضرب د حاصل پيدا کولـــوکې مرسته وکړي.

۹.
۴ × ۶ = ___
۶ × ۴ = ___

۱۰.
۲ × ۹ = ___
۹ × ۲ = ___

۱۱.
۴ × ۵ = ___
۵ × ۴ = ___

کورنۍ دنده: د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ.

۱.
۲ × ۷ = ___
۷ × ۲ = ___

۲.
۳ × ۶ = ___
۶ × ۳ = ___

۳.
۸ × ۳ = ___
۳ × ۸ = ___

پنځه څلویشتم لوست
په عمودي شکل ضرب کول

هدف: زده کوونکي سربېره په افقي (په یوه لیک کې) ډول د ضرب په عمودي ډول (یوتربل لاندې) هم پوه شي





په هر کتار کې ۴ مڼې
کتارونه ۳ ×
ټوله ۱۲ داني مڼې

۱۲ = ۳ × ۴

مثال: دضرب حاصل پیداکړئ. ۲ کتاره، دي هر کتار ۷ دانه يې.

کتاره

۷
۲ ×
۱۴

۱۴ = ۲ × ۷

۱ – ۴ ګروپونه، هر ګروپ کې ۲ داني پیالي.



ګروپ

۴
۲ ×

___ =۲ × ۴

۲ . ۵ ګروپونه،هر ګروپ کې ۳ داني پاڼې.



ګروپ

۵
۳ ×

___ = ۳ × ۵

۳ . ۳ کتاره، هر کتار کې ٦ توپونه.



ګروپ

۳
٦ ×

___ = ٦ × ۳

۴– عددي جملې په دوه ډوله ولیکئ

۲ کتاره، په هر کتار کې ۸ دایري.



۸ × ۲= ۱٦

۸
× ۲
۱۶

۵. ۴ ګروپونه، په هر ګروپ کې ۵ هګۍ



___ × ___ = ___

☐
× ☐
☐

٦. ۴ کتارونه، په هر کتار کې۴ دایرې



___ × ___ = ___

☐
× ☐
☐

۷. ۵کتاره، په هر کتار کې ۲ دایرې.



___ × ___ = ___

☐
× ☐
☐

د محیطي موادو څخه ګټه واخلئ او ضرب یې کړئ.

۲	۵	۳	۷	۲	۴	۷
× ۲	× ۲	× ۴	× ۲	× ۷	× ۲	× ۱

کورنۍ دنده:

۴ × ۳ = ___ ، ۳ × ۳ = ___ ، ۲ × ۳ = ___

۴ × ۴ = ___ ، ۳ × ۴ = ___ ، ۲ × ۴ = ___

شپږ څلوېښتم لوست
د ضرب عبارتي پوښتنې

هدف: زده کوونکي د عبارتي پوښتنو په مفهوم وپوهېږي او د رياضی افاده يې وليکي.

د ضرب د عمليې څخه په کار اخستو سره ٦ پوښتنې حل کړئ عددي جملې يې وليکئ او د ضرب حاصل پيداکړئ.

١. د مرسل په بوټي کې ٣ سره ګلونه دي او هر ګل ٦ پاڼې لري ټولې څو پاڼې لري؟

_____ = _____ × _____

_____ د ګل پاڼې

٢. جميله کباب پخوي او هغې دکباب ٦ سيخونه پاخه کړي دي د کباب هر سيخ يې ۴ ټوټې غوښه لري ټوله څو ټوټې غوښه کيږي؟

_____ = _____ × _____

ټوله _____ ټوټې غوښه

٣. زيبا ۵ ګلدانۍ لري په هره ګلدانۍ کې يې دوه د ګلانو بوټي کينول، د ګلانو ټول شمير څو کيږی.

_____ = _____ × _____

ټوله _____ بوټي

۴. يو بڼوال غواړي په هر کتار کې د خټکيو ۴ تخمه کينوي ٣ کتاره يې پوره کړي دي په آخر کتار کې يې يوازې دوه تخمه کينولي، ټول څو تخمه کيږي.

_____ = _____ × _____

ټوله _____ تخمه

کورنۍ دنده:

تاسو په خپله عبارتي پوښتنې جوړې او د عمليې عددي افادې وليکئ او هم د ضرب حاصل يې پيداکړئ.

اوه څلوېښتم لوست

د شکلونو څخه په کار اخستو سره د ضرب ښوونه

هدف: دشيانو په کارولو سره زده کوونکي باید د۲ ژبنی ضرب زده کړي او حافظې ته وسپاري.



۱ × ۲ = ۲

۲ × ۲ = ۴

۳ × ۲ = ٦

۴ × ۲ = ۸

۵ × ۲ = ۱۰

٦ × ۲ = ۱۲

۷ × ۲ = ۱۴

۸ × ۲ = ۱٦

۹ × ۲ = ۱۸

۱۰ × ۲ = ۲۰

لکه د۲ ضرب د۳ ضرب هم دشکل له مخې په لاندې توګه په لاس راوړو.



۳=۱×۳=۳

۳+۳=۲×۳=۶

۳+۳+۳=۳×۳=۹

۳+۳+۳+۳=۴×۳=۱۲

۳+۳+۳+۳+۳=۵×۳=۱۵

۳+۳+۳+۳+۳+۳=۶×۳=۱۸

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۷×۳=۲۱

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۸×۳=۲۴

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۹×۳=۲۷

۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳+۳=۱۰×۳=۳۰

د ۵ ضرب

۱ × ۵ = ۵

۲ × ۵ = ۱۰

۳ × ۵ = ۱۵

۴ × ۵ = ۲۰

۵ × ۵ = ۲۵

۶ × ۵ = ۳۰

۷ × ۵ = ۳۵

۸ × ۵ = ۴۰

۹ × ۵ = ۴۵

۱۰ × ۵ = ۵۰

د ۴ ضرب

۱ × ۴ = ۴

۲ × ۴ = ۸

۳ × ۴ = ۱۲

۴ × ۴ = ۱۶

۵ × ۴ = ۲۰

۶ × ۴ = ۲۴

۷ × ۴ = ۲۸

۸ × ۴ = ۳۲

۹ × ۴ = ۳۶

۱۰ × ۴ = ۴۰

مشق او تمرین:

له حل شوي مثال څخه په کار اخستو سره لاندې تش ځایونه ډک کړئ.

مثال: ۳ × [۲] = ۶

۳ × [ ] = ۹

۳ × [ ] = ۱۲

۳ × ۵ = [ ]

[ ] × ۶ = ۱۸

اته څلوېښتم لوست

د يوه رقمي عدد ضربول په دوه رقمي عدد کې

هدف: زده کوونکي يو رقمي عدد په دوه رقمي عدد کې ضرب کړاي شي اوپه عين وخت کې د ضرب اجزاوي اود ضرب حاصل وپېژني.

لاندې مثال په نظر کې نيسو په شکل کې ليدل کيږي چې ۱۳ کتـــار جـــوړ شوي دي او په هر کتار کې ۲ خانې تورې شوې دي، چې د جمعـــې د دوو مساوي اجزاوو په توګه يې ليکو ۱۳ + ۱۳ = ۲۶

يا ۱۳ × ۲ = ۲۶

د ضرب حاصل   د ضرب دوهم جزء   د ضرب لومړي جزء



اوس غواړو پورتنی مثال د يوې ضربي افادې په توګه وليکو او ضرب يې کړو.

يويز لسيز

۱۳ ← دضرب لومړۍ جز

× ۲ ← دضرب دويم جز

لومړی د۲ عدد په يويزو يعنې ۳ کې ضرب کوو چې ۶ کيـــږي او هغه د ضرب د حاصل د يويزو په ځای کې ليکو.

$$\begin{array}{r} ۱۳ \\ \times\ ۲ \\ \hline ۶ \end{array}$$

وروسته د۲ عدد په لسيزو يعنې ۱ کې ضرب کوو داچې ۱ د لسيزو په ځای کې شتوالی لري يو لسی دی د۲ سره د هغه د ضرب حاصل د۲ عدد نه دی خو ۲ لسيه يعنې ۲۰ دي.

```
  ۱ ۳
×   ۲
-----
    ۶
  ۲ ۰
```

چې د دې دواړو له جمع کولو وروسته د ضرب حاصل يعنې د يـــويزو او لسيزو ځايونه داسې په لاس راځي.

```
   ۱ ۳
 ×   ۲
------
     ۶
 + ۲ ۰
------
   ۲ ۶   دضرب حاصل
```

مثال:

غواړو د۱۲ عدد په ۴ کې ضرب کړو.

لسيز	يويز
۱	۲

```
  ۱ ۲
×   ۴
-----
```

لکه مخکنی مثال ۴ په يويزو کې ضرب کوو چې ۸ حاصلېږي يعنې:

```
  ۱ ۲
×   ۴
-----
    ۸
```

اوس د ۴ عدد په لسيزوکې چې په حقيقت کې (۱) لسي دی ضرب کوو چې د هغه د ضرب حاصل ۴ کېږي په دې باندې بايد پوه شو چې۴، څلور يويز نـــه دي خو ۴ لسيه دي او هغه د لسيزو په ځای کې ليکو يعنې:

```
  ۱ ۲
×   ۴
-----
  ۴ ۸
```

حاصل شوی عدد ۴۸ دی چې د ۸ یویزو او ۴ لسیزو څخه عبارت دی.

مثال: غواړو د ۱۳ عدد د ۵ په عدد کې ضرب کړو.

یویز	لسیز
۳	۱

۱۳
× ۵

لومړی د ۵ عدد په یویزو یعنې (۳) کې ضرب کوو چې د هغو د ضرب حاصل ۱۵ کیږي د۱۵ د یویزو رقم یعنې ۵ د ضرب د حاصل د یویزو په ځای کې لیکو او د هغه د لسیزو رقم چې (۱) لسی دی د حاصل په توګه د ۱۳ د لسیزو د مرتبې پورته یې لیکو.

کوم وخت چې ۵ د لسیزو په مرتبه یعنې (۱) کې ضرب کړو د حاصل شوي یاددابنت سره یې جمع کوو چې د٦ عدد په لاس راځي او د ٦ عدد د ضرب د حاصل د لسیزو په مرتبه کې لیکو چې ٦۵ حاصل کیږي.



مشق او تمرین:

د لاندې پوښتنو د ضرب حاصل په لاس راوړئ.

۲۵	۱۴	۱۷	۱۶	۱۸	۲۱
× ۴	× ۵	× ۳	× ۵	× ۴	× ۲

نه څلوېښتم لوست

د ضرب په عمليه کې د(۱) د عدد خاصيت

هدف: زده کوونکي پوه شي (۱) چې په هر عدد کې ضرب شي د ضرب حاصل يې هم هغه عدد دی.

په تير لوست کې مو ولوستل چې:

۲ = ۱ × ۲ يا ۲ = ۱ + ۱

۳ = ۱ × ۳ يا ۳ = ۱ + ۱ + ۱

۴ = ۱ × ۴ يا ۴ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱

۵ = ۱ × ۵ يا ۵ = ۱ + ۱ + ۱ + ۱ +۱

دا لوست مونږ په دې پوهوي هر عدد چې په (۱) کې ضرب شي د ضرب حاصل يې په خپله هم هغه عدد کيږي يعنې:

۶ = ۱ × ۶

۷ = ۱ × ۷

۸ = ۱ × ۸

۲۵ = ۱× ۲۵ او نور.

کورنۍ دنده:

۱۲ = □ × ۱۲ ، ۵ = ۱ × □

□ = ۱ × ۳۵ ، □ = ۱ × ۱۷

پنځوسم لوست

د ضرب په عملیه کې د (٠) صفر خاصیت

هدف: زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په صفر کې ضرب شي د ضرب حاصل یې صفر دی.

مونږ پوهېږو چې په یوازې توګه صفر په معنا د هیڅ دی، په هره اندازه چې د صفرونو شمېر زیات شي بیا هم هیڅ دی یعنې:

٠ = ٠ × ١ = ٠

٠ = ٠ × ٢ یا ٠ = ٠ + ٠

٠ = ٠ × ٣ یا ٠ = ٠ + ٠ + ٠

٠ = ٠ × ٤ یا ٠ = ٠ + ٠ + ٠ + ٠

٠ = ٠ × ٥ یا ٠ = ٠ + ٠ + ٠ + ٠ + ٠

په همدې ډول:

٠ = ٠ × ٦

٠ = ٠ × ٧

٠ = ٠ × ٨

٠ = ٠ × ٩

د پورتني مثال له مخې ویلای شو هر عدد چې په صفر کې ضرب شـــي د هغه د ضرب حاصل صفر دی.

مشق اوتمرین:

١– د جمعې افادې په ضرب باندې بدلې کړئ.

=٠ + ٠ + ٠ + ٠ + ٠ + ٠

=٠+ ٠ + ٠ + ٠ + ٠ + ٠ + ٠

٢– دا افادې په جمع باندې بدلې کړئ.

= ٠ × ٩

= ٠× ١١

یو پنځوسم لوست

د ګروپونو جوړول

هدف: دا لوست زده کوونکي د ویش د عملیې دپاره چمتو کوي.

د خپل یوه ملګري سره کار وکړئ

۲۰ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ.

مساوي ګروپونه جوړ کړئ.

په شکل کې څو ګروپونه دي؟

څومره کوچنۍ ډبرې پاتې دي؟



په جوړه یې توګه کار وکړئ هره جوړه دې ۲۰ کوچنۍ ډبـــرې استعمال کړي، عددونه ولیکئ.

د کوچنیو ډبرو پاتې	مساوي ګروپونه	عملیه	
۰	۵	د ۴ ګروپونو جوړول	۱
		د ۵ ګروپونو جوړول	۲
		د ۲ ګروپونو جوړول	۳
		د ۸ ګروپونو جوړول	۴
		د ۳ ګروپونو جوړول	۵
		د ٦ ګروپونو جوړول	٦
		د ۱۲ ګروپونو جوړول	۷

ویې لیکي څو ګروپونه کیږي او څو پاتي کیږي؟

مثال:



______ ګلان

د هرو ۵ ګلانو په شاوخوا دایره وکاږئ.

______ ګروپونه

______ پاتي

۱.



______ توپ.

د هرو ۳ توپونو په شاوخوا دایره وکاږئ.

______ توپونه

______ پاتي

۲.



______ خزندي.

د هرو ۴خزندو په شاوخوا دایره وکاږئ

______ ګروپونه

______ پاتي

۳.



______ پاڼي.

د هرو ٦ پاڼو په شاوخوا دایره وکاږئ.

______ ګروپونه

______ پاتي

کورنۍ دنده: لاندي پوښتني په خپلو کتابچو کي حل کړي او له ځان سره یې راوړئ.

۱۷۴ + ۳۴۸	۶ × ۲	۳۲ + ۲۹	۵۶۷ − ۲۱	۲۸ − ۹
۷۱۲ − ۲۲۷	۵ × ۲	۷۲ − ۱۷	۳۶ + ۱۸	۴ × ۳

دوه پنځوسم لوست
د مساوي ګروپونو جوړول

هدف: دا لوست زده کوونکي د ويش د عمليې زده کړې ته چمتو کوي.

مثال:

له ۲۴ کوچنيو ډبرو څخه:

لومړي مرحلۀ: مساوي ګروپونه جوړ کړئ



دوهمه مرحلۀ: د هرګروپ لپاره يوچوکاټ رسم کړئ د هرشي يا قلم لپاره يوه نښه وټاکئ.



په هر ګروپ کې ۱۲ دي

۲ ګروپونه د۱۲ په ۲۴ کې شتوالي لري

لوبې ته ادامه ورکړئ! ۲۴ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ. مساوي ګروپونه جوړ کړئ. دهر ګروپ لپاره يو چوکاټ رسم کړئ.

مثال:

په هر ګروپ کې ۸ کوچنۍ ډبرې دي .

۳ ګروپونه د ۸ ۲۴ کيږي.

۱.

په هر ګروپ کې ______ دي.

______ ګروپونه د ______ ۲۴ کيږي.

۲.
په هر ګروپ کې ______ دي.
____ ګروپونه د ______ ۲۴ کیږي.

۳.
په هر ګروپ کې ______ دي.
______ ګروپونه د ______ ۲۴ کیږي.

۳ هلکان ۱۸ داني توته لري.
هغوی، توت په مساوي توګه وویشل.
هر هلک څوداني توته په لاس راوړل.
هر هلک ٦ داني توته په لاس راوړل.



مثال: ۱۲ تنه په ۳ قالینوکي ګډه دي.
نوپه یوې قالیني کې به څوتنه ګډه وي.



۴ تنه په هره قالیني کې

۱. ۸ هلکان په دوو مېزوکې ګډه دي
په هر مېز کې څو هلکان دي؟

______ هلکان په هرمېز کې

۲. ۵ هلکان په ۱۰ پنسلونو کې ګډه دي. هر هلک ته څو پنسلونه رسېږي؟
______ پنسلونه د هر هلک لپاره.

کورنۍ دنده: ۴ هلکان په۱٦ بالونوکې ګډه دي هر هلک ته څو بالونه رسېږي؟
______ بالونونه د هر هلک لپاره

درې پنځوسم لوست

د ویش مفهوم

هدف: زده کوونکي د تقسیم په مفهوم وپوهیږي او دتقسیم عملیه تر سره کړي.

د یوه شي جلاء کول په څو مساوي برخو د تقسیم په نامه یـــادیږي دا (⟌ ، ÷) دتقسیم نښې دي .

که چیرې په یوه پطنوس کې ۸ داني مڼې ولرو او هغه په دووبشقابو کـــې وویشو په هر بشقاب کې ۴ داني مڼې راځي.



مونږ په ریاضي کې دمڼو دتقسیم عملیه، چې په دوو مساوي برخـــو ویشل کیږي داسې لیکو

۸ ÷ ۲ = ۴ د ویش حاصل

مقسوم   مقسوم علیه

پورته افاده داسې لوستل کیږي، اته تقسیم پر دوو مساوي له څلـــورو سره په همدې ډول په لاندې چوکاټ کې ۱۲ داني ناکه شته دي. که چیرې هغه په ۳ مساوي برخو جلاء کړو په هر کوچني چوکاټ کې ۴ داني ناکه حاصلیږي.



په ریاضي کې د۱۲ ناکو دتقسیم عملیه، چې په درومساوي برخو ویـــشل کیـږي داسې لیکو:

۱۲ ÷ ۳ = ۴

مقسوم   مقسوم علیه   دویش حاصل

مشق او تمرين

۵ هلكان په ۱۵ مريوكې ګډ دي. هر هلک څومرۍ په لاس راوړي؟

لومړي مرحلهٔ: ۵ ګروپونه وښاياست.

دوهمه مرحلهٔ: يوه، يوه مرۍ وهرګروپ ته ورکړئ.



دريمه مرحلهٔ: تر هغه پورې دوام ورکړئ ترڅو چې مرۍ خلاصې شي.



۱۵ تقسيم پر ۵ مساوي له ۳ سره $۱۵ \div ۵ = ۳$

۱۵ مرۍ چې په ۵ ګروپونو تقسيم شي هر ګروپ ته ۳ مرۍ رسيږي.

په جوړه يې توګه کار وکړئ. دمساوي ګروپونو جوړولو دپاره کوچنۍ ډبرې استعمال کـړئ عبارتې پوښتنې وليکئ او حل يې کړئ.

مثال: دوه هلكان په ۱۰ بالونوكې ګډ دي وهر هلک ته څو بالونونه رسيږي.



$۱۰ \div ۲ = ۵$

۱. ۱۶ مرۍ د غاړې په ۲ اميلو باندې ووېشئ

----- ÷ ----- = ------

۲. ۹ دانې دګيلاس ميوه په ۳بشقابونو کې په مساوي ډول کيږدي.

---- ÷ ------ = -----

۳– ۱۲چوغکې د وني په ۲ ښاخو باندې ووېشئ هر ښاخ به څو چوغکې ولري؟

----÷ ------ = -----

۴- ۸ ګوډي پرانه د۲ هلکانوترمنځ ګډ دي، هريوه ته څو ګوډي پرانه رسېږي.

---- ÷ ------- = ------

۵- ۳ هلکان په ۱۵ موټرګيوکې ګډ دي، هر هلک ته څو موټرګيه رسېږي.

--- ÷ ------- = ------

۶- ۲۰ قلمه تباشير په ۴ چوکاټونوکې په مساوي ډول وويشئ

----÷ ------- = ----

۷-۵ کځوړي ۲۵ مرۍ لري هره کځوړه به څو مرۍ ولري

---- ÷ ------- = ------

۸-۱۲هلکان په۳ زانګوګانوکې لوبې کوي په هره زانګوکې څوهلکان لوبې کوي

----÷ ---- = -----

۹-۹ مرغۍ په ۳ ښاخونوکې په مساوي ډول ناستې دي نو په هر ښاخ کې څومرغۍ ناستې دي:

---- ÷ ------- = ------

کورنۍ دنده: ګروپونه جوړ کړئ او پوښتنې حل يې کړئ.

۱- ادريس ۱۸ بوتله اوبه لري که چېرې خپل هر ټولېګوال ته ۲ بوتله اوبه ورکړئ. د ادريس د ټولېګوالو شمېر معلوم کړئ؟

د ادريس ټولېګوال ------ = ------- ÷ ----

مشق او تمرين:

٢– حيدر ١۴ منې لري که چېرې هغه خپل هر ورور ته ٧ منې ورکړي

وواياست چې حيدر به څو ورونه ولري؟

په يوه ډګر کې ٦ خيمې دي چې د هرې خيمې په دننه کې٣ هلکان دي.

ټوله هلته څو هلکان دي؟



٦ ÷ ٣ = ٢   ٦ × ٣ = ١٨   ٦ − ٣ = ٣

دپوښتنود صحيح حل په شاوخوا باندې دايره وکاږئ.

١. ٢ هلکان په لوبغالي کې قدم وهي.

٣ هلکان نور له هغو سره يوځای کېږي.

اوس څو هلکان قدم وهي؟

٢ × ٣ = ٦   ٣ − ٢ = ١   ٢ + ٣ = ٥

---

٢. ۵ هلکان ماهي نيسي.

اوهر هلک ٣ ماهي ونيول

هلکانو ټول څو ماهي نيولي دي؟

۵ × ٣ = ١۵   ۵ − ٣ = ٢   ١۵ ÷ ٣ = ۵

۳. ۵ هلکان ۱۰ داني ژاولې په مساوي ډول ويشي.
هر هلک ته څو داني ژاولې رسېږي؟



۱۰ + ۵ = ۱۵   ۱۰ ÷ ۵ = ۲   ۲ × ۵ =۱۰

---

۴. ۸ هلکان د اور په شاوخوا باندې ناست دي.۲ هلکان له هغوی څخه کورته ځي.
اوس څو هلکان داور په شاوخوا باندې ناست دي

۸ + ۲ = ۱۰   ۸ ÷۲ = ۴   ۸ − ۲ = ٦

---

۵. ۱۰ هلکان غواړي چې په يوه سفر کې له ۵ بايسکلونوڅخه په مساوي توګه کار واخلي په يوه بايسکل کې څو هلکان ګډېږي (شريک)؟



۱۰ ÷ ۵ = ۲   ۱۰ + ۵ =۱۵   ۱۰ − ۵ = ۵

کورنۍ دنده:

دهرې عددې افادې لپاره يو عبارت وليکئ

۱. ۴ × ۲ = ۸

۲. ۱۲ ÷ ۲ = ٦

۳. ۱۷ − ۹ = ۸

د ضرب او تقسیم مشق او تمرین



یوځای کار وکړئ او تمرینونه حل کړئ

ویې لیکئ څومره؟

۱.



___ + ___ + ___ = ___

___ گروپونه د ___ = ___

۲.

___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ گروپونه د ___ = ___

۳.



___ + ___ = ___

___ گروپونه د ___ = ___

۴.



___ + ___ + ___ =

___ گروپونه د ___ = ___

۵. د لاندې افادو حاصل په دوه ډوله پیداکړئ.



___ + ___ + ___ + ___ = ___

___ گروپونه د ___ = ___

۶.



___ + ___ + ___ = ___

___ گروپونه د ___ = ___

مساوي کتارونه جوړ کړئ. هر کتار رنګ کړئ، او حاصل يې پيدا کړئ.

۵ کتاره د ۳	۳ کتاره د ۵	۴ کتاره د ۲	۲ کتاره د ۴

۷.  

$۴ \times ۲ =$ ___ $۲ \times ۴ =$ ___

۸.  

$۵ \times ۳ =$ ___ $۳ \times ۵ =$ ___

۹. ضرب يې کړئ.

۴۳	۲۵	۳۴	۲۳	۱۶	۱۷
× ۲	× ۴	× ۲	× ۳	× ۲	× ۲

۱۰. په ګروپي ډول کار وکړئ، ۱۲ کوچنۍ ډبرې استعمال کړئ افاده جوړه کړئ جمع او تقسيم يې کړئ.

په هر ګروپ کې ___ کوچنۍ ډبرې دي.

او ___ ګروپونه د ___ په ۱۲ کې شته

۱۱.

په هر ګروپ کې ___ کوچنۍ ډبرې دي.

___ ګروپونه د ___ په ۱۲ کې دي.

دکوچنيو ډبرو څخه مساوي ګروپونه جوړ کړئ، رسم يې کړئ.

کورنۍ دنده:

۱- ۱۶چوغکې په ۲بناخو باندې ناستې دي په هربناخ باندې څوچوغکې شتوالی لري

___ = ___ ÷ ___

۲- ۴ کځوړې ۱۶ مرۍ لري. هره کځوړه څو مرۍ لري.

___ = ___ ÷ ___

څلور پنځوسم لوست

د ضرب او تقسیم تر منځ اړیکې (رابطه)

هدف: زده کوونکي پوه شي که چېرې مقسوم په مقسوم علیه باندې تقسیم شي دتقسیم حاصل لاس ته راځي اوکه چېرې مقسوم علیه دتقسیم له حاصل سره ضرب شي مقسوم لاس ته راځي او دا دتقسیم اوضرب ترمنځ یوه رابطه ده.

لاندې شکل څلور بشقابه مڼې دي چې په هربشقاب کې دوه، دوه دانې مڼې دي.



د ټولو مڼو شمېر ٨ = ٢ × ۴ دي.

اوس که چېرې ٨ دانې مڼې په ۴ بشقابوکې وویشو په هر بشقاب کې ٢ دانې مڼې راځي یعنې.



٨ ÷ ۴ = ٢

په همدې ډول که چېرې ٨ دانې مڼې په ٢ بشقابوکې وویشو.



٨ ÷ ٢ = ۴

۴ × ٢ = ٨

لیدل کېږي چې په هربشقاب کې ۴ دانې مڼې دي نو ویلای شو. که چېرې مقسوم په مقسوم علیه باندې ووېشل شي د وېش حاصل په لاس راځي او که چېرې مقسوم علیه د وېش له حاصل سره ضرب شي مقسوم په لاس راځي.

مثال:

٦ ÷ ٣ = ٢

٦ ÷ ٢ = ٣

٣× ٢ = ٦

پنځه پنځوسم لوست

د یوه عدد ویشل په خپل عدد باندې (په خپل ځان)

هدف: زده کوونکي د دې لوست له زده کړې وروسته پوه شي که چېرې یو عدد په خپل ځان وویشل شي پایله یې (۱)ده.

په یوه بشقاب کې ۳ داني منې دي، فرهاد هغه پـــه ۳ کوچنیـــو بـــشقابونوکې ویشي لیدل کېږي چې په هر بشقاب کې یوه دانه منه راځي.



پورتنۍ ویشنه په ریاضي کې داسې لیکل کیږي.

```
  ۳ | ۳
    |----
 -۳ | ۱
 ----
  ۰
```

یا ۱ = ۳ ÷ ۳

له دې ځخه ویلای شو هر عدد چې په خپل ځان وویشل شي د هغـــه حاصـــل (خارج قسمت) یو دی نو لیکلای شو چې:

۱ = ۴ ÷ ۴   ۱ = ۱ ÷ ۱

۱ = ۵ ÷ ۵   ۱ = ۲ ÷ ۲

۱ = ۳ ÷ ۳

تمرین: لاندې پوښتنې حل کړئ.

? = ۸ ÷ ۸   ? = ٦ ÷ ٦

? = ۹ ÷ ۹   ? = ۷ ÷ ۷

شپږ پنځوسم لوست

د یوه عدد ویشل په (۱) باندې

هدف: زده کوونکي پوه شي هر عدد چې په (۱) باندې وویشل شي نتیجه یې په خپله هم هغه عدد ده.

ګرانو زده کوونکو تاسو هر یو خپل ټولګیوال ته ۲ ټوکه کتابچې ورکړئ او وواياست چې ستاسو دټولیګوال په لاس کې څو ټوکه کتابچې دي. حتمي ستاسو ځواب (۲) دی، چې په حقیقت کې د یوه عدد ویشل په (۱) ده. د دې عمل ریاضي شکل یې داسې لیکو.

$$\begin{array}{r|l} 2 & 1 \\ \hline -2 & 2 \\ \hline 0 & \end{array}$$

یا ۲ = ۱ ÷ ۲

په همدې ډول که چېرې شریف خپل ۳ دانې قلمونه خپلې یوې خور نازي ته ور وبخښي ویلای شئ چې نازي به څو قلمونه ولري؟ ددې پوښتنې په ځواب تاسو ټول پوهېږئ چې نازي ۳ قلمونه لري. چې داعمل هم د یوه عدد ویشل په (۱) باندې دی. د دې تقسیم د ریاضي شکل داسې دی. ۳= ۱ ÷ ۳

له دې مثالونو څخه پوهیدلای شو هر عدد چې په (۱) باندې وویشل شي د ویش حاصل یې په خپله هم هغه عدد دی.

نو لیکلای شو چې:

۲ = ۱ ÷ ۲

۳ = ۱ ÷ ۳

۴ = ۱ ÷ ۴

۵ = ۱ ÷ ۵

تمرین لاندې پوښتنو ته شفاهي ځواب وواياست.

? = ۱ ÷ ۸   ? = ۱ ÷ ۶

? = ۱ ÷ ۹   ? = ۱ ÷ ۷

اتم فصل

د اندازه کولو واحدونه

اووه پنځوسم لوست

غیر معیاري واحدونه

هدف: زده کوونکي په دې پوه شي چې په پخوا وختوکې د شیانو اوږدوالی په څه شي اندازه کیده او هغوی د اوږدوالي معیاري واحد دپیژندلو لپاره چمتو کړئ.

په خپل ټولګي کې د اندازې نیولو لپاره یو شئ وټاکئ د هغه جګوالي او یا اوږدوالي اندازه کړئ.

د اندازې نیولو یو واحد وټاکئ.



عیني شی په یوه بل واحد سره اندازه کړئ ا و چارټ بشپړ کړئ.

	زه څه شئ اندازه کوم	داندازه کولو واحد	اندازه نیول
۱	ور	دزده کوونکي لویشت	کابو ۲۰ لویشتې
۲	________	________	کابو ________
۳	________	________	کابو ________

کورنۍ دنده: د خپل وروو او خور قدونه د لویشت او پنسل په واسطه انــدازه کړي، او ووایاست چې هر یو څومره قد لری؟ څو لویشتی یا څو پنسلونه؟

اته پنځوسم لوست

معياري واحدونه (متر، سانتي متر او ملي متر)

هدف: زده كوونكي دمعياري واحدونو په ګټه اوپه ورځني ژوند كې دهغو داستعمالولو په طريقه پوه شي.

متر: د شيانو اوږدوالى په متر سره اندازه كوي چې يومنل شوې معياري اندازه ده. مثلاً د ټوكر اوږدوالى، د دروازې اوږدوالى، ستاسو د ټولګي اوږدوالي... پـــه متر سره اندازه كېږي. لاندې شكل د يوه متر نمونه ده. يو متر په سلو مساوي برخو ويشل شوى دى او د هغه هرې برخې ته سانتي متروايي يعني:

۱۰۰ سانتي متر = ۱ متر



خط كش: كوچنى اولنډ اوږدوالى د خط كش په واسطه اندازه كېږي تاســـو كولاي شئ د خپل كتاب اوږدوالي او بر د خط كش په واسطه اندازه كړئ. او په همدې ډول كولاى شئ د خپل قلم اوږدوالى دخط كش په واسطه انـــدازه كړئ چې څو سانتي متره كېږي.

دا يو خط كش ده او ۱۰ سانتي متره اوږدوالى لري.



د خپلې لوښتي اندازه دخط كش په واسطه معلومه كړئ او ووايـاست چې څو سانتي متره ده.

زه له یو متر څخه اوږد یم.

۱ متر ۱۰ دیسي متره کېږي.

۱ متر ۱۰۰ سانتي متره کېږي.

۱ متر ۱۰۰۰ ملي متره کېږي.



د خپل یوه ملګري سره یوځای کار وکړئ.

اوږدوالي په سانتي متر، اومتر سره تخمین او وروسته یې اندازه کړئ ______

	د لاندې شیانو اندازه اخیستل	تخمیني	اندازه نیول
۱	له سره د پښو ترګوتو پورې	کابو ______ متره	______ متره
۲	ستاسو د مېزجګوالی	کابو ______ متره	______ متره
۳	د ټولګي اوږدوالی	کابو ______ متره	______ متره
۴	د ټولګي د بر واټن	کابو ______ متره	______ متره
۵	د ټولګي د څلورو خواو اندازه	کابو ______ متره	______ متره
۶	ستاسو د څوکۍ اوږدوالی	کابو ______ متره	______ متره
۷	ستاسو د ټولګي د وره لوړوالی	کابو ______ متره	______ متره

کورنۍ دنده:

حل یې کړئ: د حیدر د تنې لوړوالی ۱۳۰ سانتي متره دی او د ادریس د تنې لوړوالي ۱۱۵ سانتي متره دی د حیدر د تني اوږدوالی څومره زیات دی؟ ______

نه پنځوسم لوست

د ټوټه خطونو د اوږدوالي اندازه کول د خط کش په واسطه

هدف:زده کوونکي دې ته چمتو شي چې دهندسي شکلونو دچاپيريال (محيط) داندازه کول دپاره دخط کش څخه کار واخلي.

ګرانو زده کوونکو! تاسو په تيرو لوستونوکي د خط کش له نامه سره بلد شوي ياست. او پوهېږئ چې د لنډ اوږدوالي اندازه کولو لپاره په کار وړل کېږي، مثلاً که چېرې وغواړو د يوه پنسل، اوږدوالى اندازه کړو د خطکش د صفر ټکى (نقطه) د پنسل په يوه سر باندې ايږدو، وينو چې د قلم بل سر د خط کش له کومې درجې سره مطابقت کوي، څرنګه چې د پنسل بل سر د ۱۰ له عدد سره مطابقت کوي نو وايو چې د پنسل قلم اوږدالي يا اندازه ۱۰ سانتي متره دي.



او په همدې ډول دا ●————● يوټوټه خط دئ. د دې ټوټه خط اندازه يا اوږدوالى څرنګه چې د پنسل اوږدوالى مو معلوم کړئ، په هم هغه ډول يې اندازه کوو ليدل کيږي چې دنوموړي ټوټه خط اوږدوالى ۵ سانتي متره يا ۵۰ ملي متره دئ.



که چېرې وغواړو چې يو خط د ۴۰ ملي مترو په اوږدالي رسم کړو د دې ټوټه خط اوږدوالي په څو سانتي مترو سره دخط کش په مخ په نښه کوو.

د خپل يوه ملګري سره يوځاى کار وکړئ يو خط کش استعمال کړئ او پوښتنو ته ځواب ووایاست.

۱- يو سانتي متر څو ملي متره کيږي

يو سانتي متر ______ ملي متره کيږي.

۲- ۲ سانتي متره څو ملي متره کيږي؟

۲ سانتي متره ______ ملي متره کيږي.

۳. ۳ سانتي متره څو ملي متره کيږي؟

۳سانتي متره ______ ملي متره کيږي.

۴. ۴۰ ملي متره څو سانتي متره کيږي؟

۴۰ ملي متره ______ سانتي متره کيږي.

۵. ۱۵ ملي متره څو سانتي متره کيږي؟

۱۵ ملي متره ______ سانتي متره او_______ ملي متره کيږي.

تمرين

لاندې ټوټه خطونه دخط کش په واسطه اندازه کړئ او ووایاست چې هر يو يې څو سانتي متره او څو ملي متره دي.



نهم فصل (هندسه)

شپيتم لوست

د هندسي شکلونو پيژندنه

هدف: څرنګه چې زده کوونکي په ورځنۍ ژوند کې دهندسي ساده شکلونو سره مخامخ کيږي نولازمه ده چې د هغو سره پيژندګلوي ولري.





تمرين:

۱– د(سرِه کځ) په شکل کې مستطيل، مربع، دايره او مثلث وښاياست.

۲– په پورتنۍ شکل کې څومستطيلونه، څو مربع ګانې، څو دايرې او څـــو مثلثونه ليدلای شئ.



۳– په مخامخ شکل کې څو مثلثونه څو مربع ګانې څو دايرې او څو مستطيلونه دي وښاياست.

۴- شکلونوته مخامخ نومونه شته دي، تاسو خپلو کتابچو ته نقل کـــړئ. د یوه تیر په واسطه شکل داړوند نامه سره ونښلوي، ګوټونـــه (کـــنج) او ضلعي یې وښایاست.



مثلث

مربع

مستطیل



دایره

۵ – په لاندې هندسي شکلونو کې دمربع ګانو، مستطیلونو، دایـــرو او مثلث شمېر پیداکړئ.



٦– د خپل کور په چاپېریال (محیط) کې کوم شیان دایروي شـــکل، کـــوم شیان مثلث شکل، کوم شیان مستطیل شکل او کوم شیان مربع شـــکل وینئ نوم یې واخلئ.

محیط

د یوه شکل ګرد چاپیرواټن دهمهغه شکل دمحیط په نامه یادیږي.



۲۱ سانتي متره = ۲ + ۳ + ۴ + ۴ + ۸

محیط = ۲۱ سانتي متره

وار ونیسئ دخنډو داوږدوالي اندازه جمع کړئ ترڅو محیط پیداکړئ.

۱.



ګردچاپیره <u>۳۲</u> سانتي متره

محیط= <u>۳۲</u> سانتي متره

۲.



ګردچاپیره <u>۲۹</u> سانتي متره

محیط= <u>۲۹</u> سانتي متره

۳.



۴. وار ونیسئ دشکلو اوږدوالی اندازه کړئ، جمع یې کړئ، ترڅو محیط یې پیداکړي.



۵. په خپله خوښه یو شکل رسم کړئ وروسته د هغه محیط په سانتي متر سره اندازه کړئ.

کورنی دنده: په کورکې دوه شکله پیداکړئ اودهغو محیط اندازه کړئ او خپلې نتیجې په ټولګي کې ووایاست.

لسم فصل
د کسر پېژندل په عملي توګه
یو شپیتم لوست
په هندسي شکلونوکې کسر

هدف:په هندسی شکلونو کې د کسرونو پشژندل.

مساوي او نامساوي برخې

برخې په عیني اندازه نه دي.



دا مساوي برخې نه دي.

برخې په عیني اندازه دي.



دا مساوي برخې دي.

لاندې هر یو شکل په څو برخو ویشل شوی دی کوم شکلونه په مساوي برخو او کوم شکلونه پـه نامساوي برخو ویشل شوی دی. لست یې کړئ د مثال څخه کار واخلئ.

برخې ۲

نا مساوي

مساوي



۱شکل

برخې ۳

مساوي

نا مساوي

۲شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۳شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۴شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۵شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۶شکل

برخې ___

مساوي

نا مساوي



۷شکل

برخې ___

مساوي

نامساوي



۸شکل

مساوي برخې رسم کړئ او هره برخه په مختلف رنګ سره رنګ کړئ.

۹.



۴ مساوي برخې

۱۰.

۳ مساوي برخې

۶ مساوي برخې



۸ مساوي برخې



۲مساوي برخې



۲ مساوي برخې

کورنۍ دنده: ۴ مساوي برخې رسم کړئ ترڅو نوی شکل جوړ کړی.



مثلث جوړکړئ.

مستطیلونه جوړ کړئ.
چې مربع نه وي.



مربع ګاني جوړي کړئ.



دا یوه مڼه ده



د مڼې نیمایي

د مڼې نیمایي

دا مڼه په دوو مساوي برخو ویشل شوې ده
هره برخه د مڼې یوه، دوهم برخه جوړه وي
اوهري برخې ته یو دوهم $\frac{۱}{۲}$ وایي.

دایو مثلث دی





دمثلث نیمايي یا دمثلث $\frac{۱}{۲}$ برخه

د مثلث نیمايي یا د مثلث $\frac{۱}{۲}$ برخه

دایوه مربع ده



دریمه برخه یا $\frac{۱}{۳}$ برخه



دامربع په دري مساوي برخوویشل شوي ده.
هره برخه دټولي مربع دریمه برخه جوړه وي.

دایو مستطیل ده.

دمستطیل څلورمه برخه
یا ($\frac{۱}{۴}$) برخه
دمستطیل



دامستطیل دی په څلورو مساوي برخو ویشل شوی دی، هره برخه د مستطیل څلورمه برخه جوړه وي.

دا یوه دایره ده



ددایرې نیمايي یا ددایرې ($\frac{۱}{۲}$) برخه

ددایرې نیمايي



دا یوه دایره ده اوپه دوو مساوي برخو ویشل شوې ده، هر یوه د دې دوو برخو څخه یوه دوهمه برخه د دایرې بلل کیږي.

دوه شپیتم لوست

د یوه کسري برخې ښوونه

هدف: زده کوونکي پوه شي چې یو شی په څو مساوي برخو ویشل شوی ده یوه برخه یې په کسري شکل ولیکي او هم سرچپه یې یوځومه برخه په شکل کې وښودلای شي.

له ۴ مساوي برخو څخه یوه برخه یې یوه څلورمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع یوه څلورمه ده

دري مساوي برخې دي هره برخه یې یوه دریمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع یوه دریمه

له دوو مساوي برخو څخه هره برخه نیمایي یا یوه، دویمه بلل کیږي.



شنه رنګه مربع نیمایي یا یوه دویمه ده

څو نیمایي، یو بشپړ شی جوړوي؟
څو څلورمي یو بشپړ شئ جوړوي؟

۱. نیمایي یې رنګ کړی.



۲. یو دریمه یې رنګ کړئ.



۳. یو دریمه یې رنګ کړئ.



۴. څلور واړه خانې یې رنګ کړئ.



۵. یوڅلورمه وښیاست



$\frac{۱}{۴}$

$\frac{\text{۱ شنه برخه}}{\text{۴ مساوي برخو}}$

یو دریمه وښیاست



$\frac{۱}{۳}$

$\frac{\text{۱ شنه برخه}}{\text{۳ مساوي برخو}}$

یودویمه وښیاست



$\frac{۱}{۲}$

$\frac{\text{۱ شنه برخه}}{\text{۲ مساوي برخو}}$ کسری خط (دبرخط)

$\frac{۱}{۴}$ ، $\frac{۱}{۳}$ او $\frac{۱}{۲}$ کسر بلل کیږي.

مشق اوتمرین: لاندې جدول بشپړ کړئ د حل شوي مثال څخه کار واخلئ.

دکسر رنګ شوې برخې ولیکئ	رسم	مساوي برخې
۱– $\frac{1}{4}$ دمساوي برخو څخه یوه یوه برخه رنګ شوې ده یا دشکل څلورمه برخه رنګ شوې ده.		۴
۲–		
۳–		

په لاندې شکلونوکې د رنګ شوو برخو اړوند کسر ولیکئ.

۴–







۵–







کورنۍ دنده: